# غروراو تعصب

## د جين آستن اثر

"دا يو نړۍ واله منل شوې حقيقت دی چې ناواده ځوان سړې چې ښې ډيرې پيسې ولري ، ارو مرويوې ميرمنې ته اړتيا لري چې راواده يې کړي."

ميرمن بينيټ دسهارپه چايو خپل ميړه ته خبر ورکړو چې ددوي له زمکو وراخوا د نيدر فيلډ لوې کور چې د څه مودې لپاره تش و اوس چا په کرايه اخستې دې. د هغې ميړه څه خاص شوق څرګند نه کړونو ميرمنې ورته په جوش وويل، زما ملګرې چې هلته ورغلی وه، واي چې دا کور يو ځوان په کرايه اخستې دې چې د ګل په ورځ ورته پخپل اس ګاډي کی راغلې و او ددی په ليدو دومره خوشاله شو چې د اوونۍ په پاې کی به ورته راکډه شي. دی بينګلې نوميږي او واده يې نه دی کړی.

ميرمن بينيټ په دی ډيره خوشاله وه چې ممکن هغه ځوان دده د يوی لور سره واده وکړي. خو ميړه ورته وويل، هغه بې ځايه خوش بينه وه. ميرمن بينيټ ورباندی ټينګار وکړو چې د بينګلې ليدو ته دی ورشي. ميړه ورته وويل، چې دې دخپلی نازولی دويمې لور ايلزبت لپاره ممکن هغه هلک سره ووينې خو دا نورې لونړه يې بی عقلې او جاهلې دې.

Ketabton.com

په بله اوونۍ ک[illegible] بينېټ د [illegible] په ټينګار ا[illegible] د [illegible] سره [illegible] د بينګلې سترې مشې ته ورغلواود ډوډۍ بلنه يې ورته ورکړه. ميرمن بينيټ له خوشالۍ په جامو کی نه ځايده او له ميړه يې د ځوان بينګلې په اړه ډيرې پوښتنې وکړې. هغې لا پخوا د خپلو لونړو د جامو اودسينګار تابيا کړی وه چې د ډوډۍ په ميلمستيا کی ورته ښکاره کړي. غوښتل يې چې ددی مشره لور جين، د بنګلې خوښه اوواده شي خو ميړه ورته وويل چې دا د وخت نه وړاندی خبره وه. بينګلې د ډوډۍ بلنه په دی عذر رد کړه چې په ښار کی يې څه کارونه و. خو ډير ژر يې پخپله دوي ته د يوې لوې ميلمستيا بلنه ورواستوله. ميرمن بينيټ ته چا خبر راوړو چې له ښاره بينګلې سره اوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورځوانان اودولس میرمنې راروانی وې چې دده له ملګرو او خپلوانو نه و. هغه د میرمنو په زیاته شمیره خوشاله نه وه خو دځوانانو په شته د هغې تمه پیدا شوه چې د لوڼو د ودونو چانس یې زیات شوې و.

کله چې دوي د میلمستون تالار ته ورسیدل نو هلته د بینګلې دوه خویندې، د مشری خورمیړه او یو بل ځوان یې ولیدل. بینګلې یو ښکلې ځوان و او دوي ټولو ته یې هرکلې وویل. دده اخښې هم شریف سړې معلومیدو. خو د ټولو جینکو پام د بینګلې ملګري، ډارسي ته وچې ښکلې او لوړدنګ و. په میلمستیا کی ورغلو نورو میلمنو هم د هغه ستاینه کوله. خو ډارسي یو څه په کبرکی ولاړ و او د خپلو څو ملګرو نه پرته بل چا سره نه غږیدو. دد د بینګلې کشری خورسره خبری کولی او نورو جینکو ته یې پام نه کوو. د ډارسي په اړه د میرمن بینیټ نظر دا و چې هغه کبرژن کس و اودا خبره یې خوښه نشوه چې د هغې ښایسته لوڼو سره یې هیڅ خبری ونکړی. ایلزبت د نورو جینکو په پرتله چې یو خوا بل خوا یې منډې وهلې، یوې خوا ته مودبه او غلې ناسته وه خوپام یې و چې بینګلې د هغې مشری خورجین ته په خوږو سترګو کتل. یو وخت هغه د بینګلې او د ډارسي خبرو ته متوجه شوه چې ددی شا ته پخپلو کی لګیا و.

بینګلې. راځه ملګریه چې د یو ښکلې جینۍ سره دی معرفي کړم، ته یواځې ولې ولاړ یې او داسی تندې دی تریو نیولې دې.

ډارسي. زه هم دغسی ښه یم. ستا خوراوزګاره نه ده او بلې جینۍ سره وردریدل راته یوه سزا ښکاري.

بینګلې. خوارشې ، دومره ډیرې ښکلې جینکی به بیا چرته نه وینې.

ډارسي. په دی تالار کی یواځینې ښکلې جینې تا سره ولاړه ده. زه بل څوک ددی وړنه وینم چې له ما سره خبری وکړي.

بینګلې. ته ریښتیا وایې، دا پیغله ډیره معصومه او ښکلې ده. خو ددې یوه ښکلې خورهلته ناسته ده، راځه چې زه دی د هغې سره معرفي کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډارسي. ولې یو تورسری ته سزا ورکوی چې په زوره له ما سره خبری وکړي؟

ایلزبت چې دا خبری واوریدې نو د ډارسي په اړه په زړه کی بدګومانه شوه. هغه ددی په اړه خپل نظر ځرګند کړی واو دا خبره یې خوښه نشوه. خو وروسته هغې دا کیسه په خوند اوپه ټوکو خپلو ملګرو ته وکړه ځکه څه کینه یې نه لرله او دا هر څه یې له پامه وغورځول. کله چې جین او ایلزبت ځان له یوائې شوې نو جین ورته د بینګلې په اړه وویل. د هغه یې دومره ستاینه وکړه چې د ایلزبت هم ورباندی باوروشو. خو هغه خبره وه چې جین ښه زړه لري او په خلکو کی عیبونه ورته نه ښکاریدل. د هغې دا هیله نه وه چې خوربه یې ژرواده شي، ځکه بینګلې ډیر شته من سړی و او پخپله د بینیټ کورنۍ د هغه سره سیالي نشوه کولی. ایلزبت هوښیاره وه او پوهیده چې د بینګلې نه چاپیره تاویدونکې، نورې جینکۍ د شته منوکورنیو نه وې او ښاي د واده لپاره یې په هغوي کی څوک غوره کړې وې. خو هغې دا خبری خپلې خور ته ونکړی چې ناهیلې نشي.

ډارسي دبینګلې نږدې ملګرې و او په ډیرو معاملو کی یې د ډارسي نه مشورې غوښتې او د هغه خبره یې منله. دې له هغه هم زیات شته من و، هوښیاراو د نړۍ په معاملو کې یې زیاته تجربه لرله. کله چې بینګلې د هغه نه د جین په اړه وپوښتل نو ډارسي ورته وویل، هغه ښکلې او هوښیاره جینۍ ده خو مور یې بې عقله ده. نورې خویندې یې هم بی تربیه ښکاري.

د بینیټ د کورنه وراخوا یوه بله کورنۍ د ولیم لوکس وه. هغه یو وخت لوې تجار و او د باچا له خوا ورته دنوابي خطاب او امتیازات هم ورکول شوي و. د لوکس میرمنه د میرمن بینیټ ملګرې وه او د هغه مشره لورشارلټ چې د ایلزبت خورلڼه وه، ددوي کور ته تله راتله. شارلټ د اوویشتو کالو وه او د میلمستیا نه وروسته د ایلزبت سره یې د هغه ځاې کیسې واوریدې. دواړو ښه شیبه د ډارسي په خبرو خاندل او په دی حیرانه وې چې خلک ولې او په څه دومره غاور وي. د شارلټ کشری خور چې ورسره راغلی وه ،وویل، که ما سره د ډارسي هومره پیسې واې نو ښاي زه به هم هغه هومره کبر ژنه ووسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ورځې وروسته، د بینګلې د کورنۍ غړي د بینیټ کورته ورغلل اوپه چایو یې خبرې وکړی. دوي ډیر مودب و خو ایلزبت احساس کوو چې د بینګلې خویندې ددی د مور په خبرو یو بل ته په سترګو کی موسکۍ شوې. هغه وشرمیده خوهیڅ یې نشو کولې ځکه ددی مورهوښیاره نه وه. خو هغې ته یوه خبره څرګنده شوه چې بینګلې د جین لپاره د خوښې احساس لرلو. هغه د خپلې مشرې خورلپاره خوشاله وه اوپه ورینې تندي یې میلمانه وپالل.
وروسته شارلټ ته یې وویل چې بینګلې ښه سړی و او جین یې خوښیده خومعلومه نه ده چې د واده په اړه څومره جدي دې. شارلټ ورته مشوره ورکړه چې هرڅومره امکان وي، جین دې د بینګلې سره ووینې. دا یې هم وویل چې د واده لپاره شته منې بس وي. او که دی ته پخپله څوک داسی په نصیب شول چې پیسې ورسره وې ، که خوښ یې نه وهم ، نو واده به ضرور کوي. شارلټ په دی باور وه چې د واده لپاره د مینې اړتیا نه وي. یو ځل سړې راقابو کړه، نو بیا د مینې خبره اسانه شي. خو ایلزبت په دی باور وه چې د واده نه وړاندی باید هلک او جینۍ له یو بل سره مینه ولري.

شارلټ ورته وویل، که جین او بینګلې یو بل خوښوي نو دا به ښه وي، خوپه هرډول وي، جین دې بینګلې خپل ځان ته وساتي. له هغې وروسته د بینیټ او بینګلې د کورنیو غړو یو بل سره په څو نورو میلسمتیاوو کی ولیدل او ډارسي د ایلزبت په اړه یو څه د خوښې احساس پیدا کړو خو هغې ته د ډارسي خبرې یادې وې او فکر یې کوو چې دا ورته د پام وړنه وه.

د ښاغلي بینیټ پینځه لوڼې وې او دده میراثي کور او زمکه دومره و چې وربانديې یې ښه ګوزاره روانه وه. خو د انګلستان د قانون سره سم دده له مړینې وروسته دا ټول شته به یې دده د یوتربور په نوم کیدل. هغه د وکیل په حیث یو څه پیسې سپما کړی وې چې لوڼو ته یې رسیدې خو په دی کور ددوي حق نه و. میرمن بینیټ خبره وه او یو ارمان یې دا هم و چې دده یوه لورد بینیټ تربورکولن ته واده شي چې ددوي کورهم له دوي سره پاته وې.

د بینیټ کور چې په کوم کلي کی و، هغه لانګبورن نومیده او ترینه یو میل لیرې د میریټن سیمه وه. هلته دبینیټ یوه تروروزۍ وسیده. دده لوڼه به کله نا کله د خپلې ترورلیدو لپاره هغه سیمې ته ورتللې او له دکانونو به یې څه نا څه سودا هم وکړه. د بینیټ کشرانې لوڼې لیډیا او کاترین به هلته ډیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورتلې او له هغه ځايه نوي خبرې به يې ماښام خپلو خويندو ته راوړې. يوه ورځ دوي خبر راوړو چې د پوځ يو کنډک هلته کې ميشت شوې و او ټول ژمې به يې هم هلته تيروي. دواړه خويندې به اوس هره ورځ د تروررکره ورتلې او له هغې به يې د پوځيانو په اړه خبرونه ترلاسه کول. څو ورځو کې دوي د ډيرو افسرانو د نومونو سره اشنا شولې او ډير ژر د ترورئ ميړه په واسطه د ځينو ځوانانوسره يې خبرې هم وکړی.

يو سهار د سبا نارئ پروخت دواړه خويندې د افسرانو په اړه دومره وغړيدې چې ښاغلې بينيټ ورته وويل، "زما په تاسو شک و چې دواړه ناپوه يئ خو اوس مو ټولو کلي والو ته ثابته کړه چې ناپوهي سره سره بي عقلانې هم يئ." کاترين ددی خبری په اوريدوغلي شوه خو ليډيا د پلارپه ترټنه هم خپلو خبرو ته دوام ورکړی و. هغې د يو جګړن کارټرنوم ياد کړو چې په بله ورځ لندن ته روان و او ليډيا غوښتل چې ورسره په کلي کی ووينې.

ميرمن بينيټ خپل ميړه ته په ګيله من غږ وويل، "خپل اولاد ته څوک ناپوهه نه واي او زما خو ټولې لونې هوښيارې دي." ښاغلي بينيټ ورته وويل، زه ستاد خبری سره موافق نه يم، دا دواړه کشرانې لونې دې سختې احمقانې دي. ميرمنې ورته وويل، دوي وړې دي او کله چې ستا او زما سن ته ورسي نو هوښيارې به شي. دوي نانډرئ وهلې چې يو قاصد د جين لپاره ليکلې پيغام راوړو. پيغام د بينګلي د خورله خوا واوهغې ته يې دغرمنئ بلنه ورکړی وه. ميرمن بينيټ په دی خبر دومره خوشاله شوه چې د ميړه سره يې جنګ پاې ته ورسوو.

جين خپلې مورته وويل چې د بينګلي کور ته د تللو لپاره ورته د اس ګاډې راوغواړي. خو مور ورته وويل، نن د باران امکان شته او که تا سره ګاډې نه و نوهغوي به دی په کور کی ايسار کړي او ته به زيات وخت هلته تير کړې. جين نه غوښتل چې په پښو ولاړه شي ځکه د لاری مزل ډير و. هغې پلارته خواست وکړو، خو مور يې په تادئ وويل، د ګاډي اس په پټيو کی پکاردې . ايلزبت مورته وويل، که بينګلې ورته د ايساريدو وونه ويل نو خوربه مې څنګه بيرته راځي. مور يې په قهر شوه چې "څه زه وايم هغه وکړئ او نوردليل نه منم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

جين مجبوره شوه چې د بينګلې کورته په پښو ولاړه شي. تر څو چې دا هلته رسيده، باران پيل شو او دا لمده خيشته شوه. ماځيګر دا والګي ووهله او سهارد بينيټ کور ته خبر ورسيدو چې جين ناروغه وه. ښاغلې بينيټ او ايليزبت دواړه خواشيني و خو ميرمن بينيټ خوشاله وه چې لور به يې زيات وخت د بينګلي کورکی پاته شي. د ايلزبت نه صبر ونشو او د پلار په اجازه د خور پوښتنې ته ولاړه. دا هم پلي هلته ورسيده او کله چې د بينګلې خوراو د هغې د کور نورو ميرمنو دا وليده نود يو بل سره يې پرې ملنډې ووهلې.

د اليزبت لمنه او بوټان په خټو لړلې وخو هغه پخپله تازه معلوميده. هغه د خورکټ سره کښيناسته او د ډاکټر دارو يې ورله ورکول. په غرمه او ماښام کی هغې د بينګلې او نورو ميلمنو سره وليدل. ډارسي هم هلته واود بينګلې خورترې تاويده راتاويده. ايلزبت د ډارسي سره په سمه خله خبره نه کوله. هغې ته دا ټول خلک کبرژن او مصنوعي ښکاريدل. بينګلې ورته مهربانه او اخلاص من ايسيدو. هغې د شته منو ميرمنو د خبرو په ځواب کی په پورا دليل او اعتماد خپله خبره کوله او نتيجه يې دا شوه چې ډيرو ښځو د هغې په اړه دا اندازه ولګوله چې دا سر زرورې ده. د شپې له ډوډۍ وروسته کله چې ايلزبت د خور کوټې ته ولاړه نو د بينګلې خوروويل، "داجينۍ بل هيڅ کمال نه لري بې له دی چې په پښو وګرځي. نن سهار تاسو ددی لمنه وليده ، چې څومره مرداري پرې لګيدلې وه." بينګلې د ايلزبت په دفاع کی وويل، "هغې درې ميله مزل کړی و او دا ښاي چې خپله خورپری څومره ګرانه وه. ما خو ددی مخ ليدو چې څومره تازه و او سترګې يې څومره ځليدې." د بينګلي خور ډارسي ته وکتل چې هغه څه ووای، ډارسي زياته کړه. "زما ملګرې ريښتيا واي، دايلزبت په سترګو کی يوه عجيبه ځلا ده چې زه يې نشم بيانولې.

د بينګلې مشرې خور وويل، "زما خو جين خوښه ده. ډيره ښکلې او هوښياره ده خو د داسی مور او د يو غريب پلار په شتون ممکن نه ده چې دی جينۍ سره څوک واده وکړي." بينګلې وويل، "ددوي يو ماما وکيل دې او بل هم شته من دی." بيا ترډيره وخته دبينګلي خويندو د بينيټ په کورنۍ ملنډی وهلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دایلزبت د خپلې خور په علاج او حالت زړه ډاډه شو نو د ماښام د ډوډۍ لپاره ښکته ولاړه. خو هلته د نورو سره دقطعو د لوبې پرځای د بینګلې په اجازه یې د الماری نه یو کتاب د مطالعې لپاره واخستو. هغه ورته وویل چې د ډارسي په کور کی ډېرلوې کتابتون دې او ښه ښه کتابونه یې لرل. ایلزبت په یوګوټ کی په مطالعه بوخته شوه اوبیا شپه هم هلته د خور په کوټه کی تیره کړه.

سهار یوې خدمت ګارې ته یې د خور د صحت په اړه وویل چې بینګلې پرې ډاډه شي، خوخپل کور ته یو پیغام ورواستوو چې مور یې راشي او د جین د روغتیا په اړه پخپله فیصله وکړي چې ایا هغه د سفرکولو جوګه وه اوکه نه. میرمن بینیټ خو تیاره ناسته وه. ددی پیغام سره سمدلاسه د خپلو دووکشرانو لوڼو سره د بینګلې کورته ورغله. که جین سخته ناروغه وې نو ښاي میرمن بینیټ به خواشینې شوې وه، خو هغې ولیدل چې لور یې ښه وه. بیا هم هغې نه غوښتل چې جین دومره ژر خپل کور ته ورشي. جین اوس شرمیده او مورته یې خواست وکړو چې خپل کور ته یې بوځي خو میرمن بینیټ انکار وکړو. بینګلې د ډوډۍ په خونه کی د میرمن بینیټ سره ولیدل او د جین په اړه یې وپوښتل. هغې ورته وویل، " لور مې ښه ده خو په هیڅ شان د سفر کولو جوګه نه ده او څو ورځې نوربه ورسره په تکلیف شئ". بینګلې ورته وویل، دا د تکلیف خبره نه ده . په دی وخت کی د هغه ملګرې او خویندې هم راغلې او میرمن بینیټ د ډارسي په لیدود خپلو لوڼو صیفت پیل کړو. ایلزبت د موضوع د بدلولو لپاره ترینه د خپلې ملګرې شارلټ پوښتنه وکړه.

په هغه ماښام د ناستې په تالار کی، الیزبت د ستنې تار سره بوخته شوه خو غوږ یې د نورو خبرو ته نیولې و. ډارسي خپلې خور ته یو لیک لیکلو اود بینګلې خور کیرولین ورسره خبرې کولې.

کیرولین. ستاسوخور به د لیک په لیدو ډېره خوشاله شي. اوتاسو څومره ژر ژر لیکئ.

ډارسي. زما د لیکلو رفتارسست دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیرولین. څومره ډیري لیکنې به کوئ، سترې کیږئ نه. خپلې خور ته ولیکئ چې زه د هغې سره لیدو ته لیواله یم.

ډارسي. ستاسو په وېنا ما یو ځلې دا خبره ورته لیکلې ده.

کیرولین. دا قلم راکړئ چې زه درته جوړ کړم. زه ډیرښه قلم جوړومه.

ډارسي. زه خپل قلم پخپله جوړوم. مننه.

کیرولین. تاسو څومره هواره لیکنه کوئ. خپلې خورته ولیکئ چې د موسیقي درسونه یې ښځنگه روان دي.

ډارسي. اوس په دی پاڼه کی د لیکلو ځای نه دی پاته.

کیرولین. زه به هغه په څو میاشتو کی ووینم. خوحیرانه یم چې تاسو هغې ته تل داسې اوږده او ښکلې لیکونه لیکئ.

ډارسي. لیکونه اوږده وي خو ښکلې نه وي.

کیرولین. زما دا باور دې چې کوم کس اوږده لیکونه لیکي، هغه بد لیک نشي لیکلې.

له ډوډئ وروسته الیزبت خور ته ورغله او وې لیدل چې هغه اوس له وړاندې ښه وه. دا یې ښکته له ځانه سره بوتله او ټولومیرمنویې په لیدو ورته هر کلې وویل. سړي هغه وخت په بله کوټه کی و. کله چې دوي هم تالار ته راغلل نو د کیرولین سترگې د ډارسي لورته کږې شوې. خو ډارسي د جین په لیدو ورته د ښه روغتیا پیرزوینې وړاندې کړې. بینگلې د جین په لیدو بې کچه خوشاله ښکاریدو. هغه تر نیم ساعت په بخاري کی په اور نورې دړې ایښودې چې کوټه د جین لپاره توده وي. بیا دی د جین سره جوخت کښیناستو او پاتې ماښام یې د هغې سره په خبرو تیرکړو.

ایلزبت د تالار له بل گوټ نه ورته کتل او په زړه کی خوشاله وه. یو چا د قطعو د لوبې خبره وکړه خو کیرولین رد کړه. څو شیبې وړاندې ډارسي ویلې و چې دهغه ددې لوبې نه بد راتلل. ډارسي یو کتاب په ولوستلو بوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او کیرولین هم د هغې کتاب دویم ټوک راواخستواو مخ ته یې ونیولو خو شیبه وروسته به یې سرکوږ کړو او دډارسي دکتاب د پاڼو جاج به یې واخستو. بیایې سر راپورته کړو او وې ویل، کتاب ولوستل څومره ښه کار دې. هغې د ډارسي پام ځان ته د اړولو ډیرې هڅې وکړې خو پاتې راغله. بیاکتاب یې بند کړو او د ورور خبرو ته غوږ شوه چې جین ته یې د نڅا د یو محفل خبره کوله. کیرولین راپاسیده او په کوټه کی وگرځیده. هغې الیزبت ته وویل، کله چې څوک د ډیر وخت لپاره په یو ځای کښیني نو دغسې گرځیدل ورته گټه رسوي. ډارسي کتاب بند کړو او سوچ یې وکړو چې د چا د پام اړولو لپاره دا ښه لاره نه وه.

په بل سهار جین او ایلزبت په گډه یو لیک خپلې مور ته ولیکلو چې دوي کور ته راتلل غواړي او یو اس گاډې دې ورپسې ولیږي. خو میرمن بینیټ په گوتو ورځې وشمیرلې او ورته یې ځواب ورواستوو چې د سه شنبې نه وړاندې گاډې نشي وراستولې. په هغه ورځ د جین د تلو یوه اونۍ پورا کیده. ایلزبت په دی ځواب خوشاله نه وه ځکه هغه په دی کور کی اوس ډیره ناارامه وه. د بینگلې خویندویو بل سره ددوي په اړه سنگ زنې خبری کولې. هغې جین ته وویل چې بینگلې ته د گاډي خواست وکړي، چې دوي خپل کورته ولاړې شي.

کله چې بینگلې خبر شو نو دوي ته یې د ایساریدووویل خو کیرولین ورته هیڅ ست ونکړو. د هغې جین خوښه وه خو ایلزبت نه یې رخه کیده. بینگلې ورته وویل چې دوي تر سبا پورې دې ایسارې شي چې د گاډي انتظام ورته وکړي. ډارسي چې خبر شو نو د ایلزبت په تلو زړه یې ارامه شو. هغه لیدل چې د کیرولین هغه نه وه خوښه او هر وارې چې ده د ایلزبت په اړه څه ښه خبره وکړه، کیرولین په بدل کی په هغې د ژبې گوزارکوو. هغه اوس د ایلزبت په اړه د خبرو نه ډډه کوله چې بې ځایه پری وونه زوریږي.

داتوار په ورځ له سبا ناری وروسته ، یواس گاډې د دواړو خویندو د اوړلو لپاره تیار ولاړ و. کیرولین په خوشالۍ دوي ته په مخه ښه وویل او جین ته یې د بیرته راتگ او لیدو ژمنه ورکړه. ایلزبت کور ته په روانیدو خوشاله وه او له زړه یې بینگلې او دده خویندو ته مننه او کور ودان وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دواړه خويندې خپل کور ته ورسيدې نو پلار او خويندې يې خوشاله شوې. د ماښام مجلسونو کی هغوي د دواړو خويندو کمې د ځو ورځو نه احساس کړو. خو ميرمن بينيټ ورته سخت په قهر وه. هغې جين ته وويل چې دومره ژرنه و راتلل پکار چې دبيا ناروغه کيدو خطريې موجود و. په بل سهار د ناری خوړلو پر وخت ښاغلي بينيټ خپلې ميرمنې ته وويل، نن د شپې ډوډۍ ښه پخه کړې چې يو ميلمه هم راځي. ميرمنې ترې وپوښتل چې ميلمه څوک و، نو ده وويل، هغه يې نه پيژني. ميرمنې ورته وويل، بينګلې خو به نه راځي، اې جين...تا ولې ما ته وونه ويل، کاشکه يو څه مهې په کورکی وې. ښاغلي بينيټ ورته وويل، بينګلې نه دې. دا کس ما په ټول ژوند کی نه دې ليدلې. د هغه لوڼو ترې پوښتنې پيل کړې او اخر پلار ورته وويل چې يو مياشت کيږي، دده تربور کولن ورته ليک راليږلې و. دا هغه کس دې چې دده له مړينې وروسته به دوي له کوره وباسي، ځکه دی د هغوي وارث و.

ميرمنه يې په ژړا شوه او ايلزبت او جين مور ته تسلي ورکړه. پلار يې د کولن ليک ټولو ته ولوستو. په دی کی د يو ميرمنې کاترين زکر و چې کولن ته يې د واده مشوره ورکړې وه او هغه دا خپل فرض ګڼله چې لومړې د بينيټ کورته راشي. کولن پادري و او خپل ځان يې ددې وړ ګڼلو چې که هره جينۍ وغواړي له ده سره به واده وکړي.

ماښام د بينيټ ټولې کورنۍ په لويه دروازه کولن ته هر کلې وويل. د شپې له ډوډۍ وروسته، کولن د خپلو خبرو پيل د ميرمن کاترين په صيفت وکړو. هغه د يوشته من نواب ميرمنه وه چې ميړه يې مړاو لوې کوريې لرلو. کولن ته يې دوه وارې د ډوډۍ بلنه ورکړې وه او په سيمه کی ډيره معتبره ګڼل کيده . د کولن له خبرو داسی ايسيده چې ددی ميرمنې هره خبره يې منله. ميرمن بينيټ په دی ډيره خوښ وه او له هغه يې وپوښتل چې دا ميرمن اولادونه لري. کولن اوويل، ددی يوه لورده، ډيره ښايسته او هوښياره وه . خو له بده مرغه تل ناروغه وي. ددی د تعليم لپاره يو معلم ورته کورکی درسونه ورکوي.

ښاغلې کولن د سبا ناری نه وروسته ميرمن بينيټ سره د جين په اړه خبره وکړه چې دده خوښه شوې وه. خوهغې ورته وويل، چې جين د بل چا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه وه او دی کولې شي چې ددی دویمی لور ایلزبت سره واده وکړي. خو ددی لپاره به لومړي پخپله ورسره خبره وکړي ځکه جینکی د مور پلار خبره نه مني.

د بینیټ کشره لور لیډیا اوس هره ورځ به میریټن کلي ته ورتله او یوه خور به ورسره بدرګه وه. هلته یو پوځي ځوان د هر چا د پام وړ ګرځیدلې و چې ویکهم نومیدو. لیډیا د خپل ماما د لاری هغه سره معرفي شوې وه او هرماښام به یې د هغه په اړه خبری کولی. د کولن د راتلو نه وروسته میرمن بینیټ غوښتل چې دی د الیزبت سره څه وخت تیر کړي. په بله ورځ دی لور ته امر وکړو چې د لیډیا سره ولاړه شي او کولن هم ځان سره ماما کره بوځي. الیزبت غوښتل چې دلیډیا نوی ملګرې پخپله ووینې چې دکورنۍ تشویش لری کړي.

هغې ته ویکهم یو معقول ځوان ښکاره شو، خو کله چې دوي د ویکهم سره په مخه ښه وکړل نو هم هغه شیبه ډارسي او بینګلې په اسونو سپاره له هغه ځایه تیریدل. دویکهم په لیدو د ډارسي مخ سور شو اوایلزبت ولیدل چې هغه ناارامه ښکاریدو. ویکهم هم یو څه حیرانه او وارخطا و خو هغه خپلی ټوپۍ ته لاس یوړو او د روغبړ اشاره یې وکړه. ایلزبت ولیدل چې ډارسي بې له ځوابه تری تیرشو. د ایلزبت په زړه کی اوس دا خبره پخه شوه چې ډارسي نه یواځې کبرژن کس و بلکه بې ادبه هم وچې له غریبو انسانانو یې کرکه کوله. کور ته په راتګ هغې جین ته دا ټوله کیسه تیره کړه خوهغی هم هڅ نشو وهلې چې ډارسي د ویکهم سره ولې دا چلن وکړو. بیا دواړو تر ډیره وخته د کولن په اړه لګیا وې چې د میرمن کاترین او د هغې د لوې کور صیفتونه یې ډیرکول.

ایلزبت په بله ورځ د لیډیا او کولن سره د ویکهم له خوا د غرمنۍ میلمستیا ته ولاړه اوغوښتل یې چې د ډارسي په اړه تري پوښتنه وکړي خود ډوډۍ پر وخت ویکهم پخپله دا موضوع پیل کړه او له الیزبت یې د ډارسي په اړه وپوښتل. هغې ورته وویل چې هغه ورته کبرژن ښکاري او بیا یې د بینګلې په کورکی د هغه د چلن ورته بیان کړو. ویکهم یو سوړاسولې وکړو او وې ویل، ټول خلک دده مال ته ګوري، خو د انسان کریکټر په پیسو نه جوړیږي. هغه سیمه کې یو کس هم د ډارسي په اړه ښه خبره نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ما لږ وخت ورسره تير کړی دی خو دومره غاورکس مې په ژوند کی نه دی ليدلی." ايلزبت غوښتل چې له هغه د ډارسي په اړه نوری پوښتنې وکړي خو ځان ورته سپک ښکاره شو. ويکهم وويل. "دده پلارډيرښه او زړه سواندې کس واو زما سرپرستي يې کوله. خو د هغه له مړينې وروسته ډارسي په ما پسي راواخيسته او زه يې له کوره وشړلم. دی هيڅ بې هيڅه راسره رخه لري. خداې خبر زه به اوس دی سيمه کی پاتې شم او که نه. "ايلزبت په جوش کی وويل، "ته به ولې ځې، ډارسي دی له دی ځايه ورک شي نو ښه به وي."

ويکهم وويل، "زه دده د پلار احسان منم اود هغه له مخې ورته څه نشم ويلې. ايلزبت د ويکهم په اړه فکر وکړو چې دې څومره نيک او لوړانسان و. ډارسي ته يې په زړه کی نوره کينه راوټوکيده. بيا يې له ويکهم پوښتنه وکړه چې د ډارسي خورڅنگه وه. ويکهم وويل، "هغه له خپل وروروزيات کبرلري. په لندن کی بيل کورکی ژوند کوي او يوه معلمه ورسره اوسيږي چې ددی زدکړو دنده يې پرغاړه ده." دوي ترډيره وخته د ډارسي او دده د خورد غرور په اړه لگيا و. ايلزبت څو شيبې غلې وه خو بيا يې وويل،" زه حيرانه يم چې ډارسي او بينگلې څنگه ملگري شول. هغه خو ډيرښه او اخلاص من سړې دې." ويکهم وويل، "ډارسي له چل ورځې. خپل عيبونه داسی په ښه توگه پټ کړي چې د چا پرې شک نه کيږي."

د ميز په بل سرکولن پخپل وارد ميرمن کاترين په اړه بيا خبری پيل کړې نو ويکهم په ورو غږ د اليزبت نه پوښتنه وکړه چې ددی او د کولن تر منځ ملگرتيا څونه وه. ايلزبت وخاندل او وې ويل چې نه، کولن دده د پلار تربور واو دوي کره ايسار و. ويکهم هم هغسې په ورو غږ اليزبت ته وويل، دی چې کومه ميرمن کاترين يادوي ، هغه د ډارسي د مورسکه خورده. د ايلزبت لپاره دا نوی خبر و. خو له دی هم مهم خبر دا و چې ميرمن کاترين غوښتل ډارسي د هغې د لور سره واده وکړي. هغې ته د بينگلې د خورڅيره راياده شوه چې د ډارسي پام يې ځان ته د اړولوهڅه يې کوله او په دی سوچ ايلزبت موسکۍ شوه. د کولن د خبرو نه هغې دا هڅ وهلې و چې ميرمن کاترين يوه کبرژنه ښځه وه او اوس چې خبره شوه چې هغه د ډارسي خاله وه نو په زړه کی يې وويل، بې شکه ټوله کورنۍ کبرژنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بله ورځ ایلزبت خپلې خورجین سره دا معلومات شریک کړل خو د جین باورنه کیدو چې ډارسي به دومره بد انسان وي. هغی د بینګلې نه د ډارسي صیفت اوریدلې و او په دی پوهیده چې بینګلې دروغ نه واي. دواړو خویندو تردیره وخته بحث کووخو ایلزبت دا نه منل چې ډارسي ښه سړی و. ددوي بحث د بینګلې او دده د خور په راتګ پاې ته ورسیدو چې د سیمې هغه مهم نڅا د جشن په اړه یې ورته بلنه راوړې وه.

د جشن په ورځ ټولې خویندې د کولن په بدرګه ولاړې. هلته څو پوځي افسران هم راغلې و او ددوي لباس د هر چا د پام وړ وی. ایلزبت د ویکهم په لټون هری خوا ته کتل خو دې ښکاره نشو. دا شک منه شوه چې ډارسي به ورته څه ویلي وي. وروسته لیډیا ددی پخلې وکړو چې دی یوه ورځ وړاندې ښار ته د یو ضروري کار لپاره تللې و. ایلزبت فکر وکړو چې هغه د ډارسي له کبله دی محفل ته نه و راغلی. کله چې بینګلې د ډارسي سره یو ځاې دوي ته نږدې شونو ایلزبت د روغبړ نه پرته ورته بل هیڅ وونه ویل. هغې خپله ملګرې شارلټ ولیده نو په خبرو ورسره بوخته شوه او کولن یې ورسره معرفي کړو. د ماښام په اوږدو کی یو ځلې ډارسي ناڅاپه د ایلزبت څنګ کی ودریدو.

ډارسي. داسې محفلونه ښه وي چې خلک د یو بل سره پیژني او خبری وکړي.

ایلزبت. هو خو کله کله خبرو ته د چا زړه نه کیږي. ځینې کسان داسی وي چې څوک ورسره خبره نشي کولې.

ډارسي. اوځینې داسی هم وي چې دهغوي سره خبری یو افتخار وي.

ایلزبت. خبرې د هغه چا سره خوند کوي چې احساس ولري.

ډارسي. ستاسو خویندې میریټن ته ځي راځي. هغه بله ورځ تاسو هم هلته تللې وئ.

ایلزبت. هو، زه د خپلې خور لیډیا سره تللې ووم . هغې دویکهم په نوم یوکس سره شناخت پیدا کړې دی. ښاغلې ویکهم دومره شریف سړی دې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ورسره ملګرتيا پيدا شوه. هغه د خپلو له لاسه زيل شوی دی اويوڅا ورسره ډيربد کړي دي.

ډارسي. کله کله انسانان هغه څه چې ښکاري ، نه وي. تاسو د کتابونو سره علاقه لرئ؟

ايلزبت. هو، خوزه هغه کتابونه نه ولولم چې ستاسو خوښ دي. اوس په دی جشن کی زه د کتابونو خبره کول نه غواړم.

ډارسي. ما يو ځلې ستاسو خبره اوريدلې وه چې د چا غلطي په اسانه نه بخښئ. يوڅوک چې مو بدي شي، تل مو بدي شي.

ايلزبت. او هم داسی ده.

ډارسي. داموهم ويل، چې تاسو تعصب نه لرئ.

ايلزبت. زه هيله لرم چې د خلکو په اړه به تعصب نه کووم خو هغه کسان چې د بل په اړه خپل نظر نه بدلوي، متاسفانه يو څه متعصب وي.

ډارسی. زه پوښتنه کولې شم چې ددی خبری نه مو مطلب څه و.

ايلزبت. هيڅ. ما ستاسود شخصيت په اړه دومره متضاد خبری اوريدلي دي چې نه پوهيږم په څه باوروکړم.

ډارسي. زما مشوره به دا وي چې د اوس لپاره زما په اړه څه قضاوت ونکړئ. وخت به درته زما اصل شخصيت وښاي.

په بله ورځ ښاغلي کولن ميرمن بينيټ ته وويل چې دې به څو ورځو کی بيرته ولاړشي اوغواړي چې د کويږدنې خبره حتمي کړي. ميرمن بينيټ هغه په کتابتون کی کښينولو اوايلزبت يې ورواستوله چې ورسره خبری وکړي. کولن د نور کله په شان د ميرمن کاترين زکر کوو او اخر تاو راتاو خبرو وروسته يې ايلزبت ته وويل چې دی د هغې سره واده کول غواړي او د هغې مور پلا ر پری راضي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلزبت چې دا واوریدل نو په ډېر ادب يې ترې مننه وکړه او وې ویل چې دا ورسره واده نشي کولی. دا له کوټې ووتله نو موریې کولن پسې ولاړه او کله چې د ایلزبت د انکار نه خبره شوه نوشورماشور يې جوړکړو. ایلزبت هم د مورسره شر وکړو. مور ورته په قهر وه او وې ویل چې که کولن سره يې واده ونکړونو دوي به بی کوره شي. خو ایلزبت دا ونه منل او وې ویل، ددی لپاره هغه خپله قرباني نشي ورکولی. موروړته وویل، بل هیڅوک به درسره واده نه کوي او په کور کی به زړه شي . ایلزبت ته دواده لپاره دا دلیل هم غلط ښکاریدو. اخر پلار ته يې وویل چې " ستا په وړاندی دوه لارې دي. ایلزبت، د نن نه ته د خپل مور یا پلار دواړو کی د یو لپاره به بیګانه يې. که د کولن سره دی واده ونکړو،نوستا مور به تا نه ویني. او که دی وکړ نو زه به دی نه وینم." کولن په دی نه پوهیدو چې ایلزبت ولې دده سره واده کول نه غواړي.

د ایلزبت ملګرې شارلټ هم هغه وخت ددوي کورته پیښه وکړه او له دروازې بهرورته لیډیا ټوله کیسه تیره کړه. داچې د ناستي کوټې ته ولاړه نو میرمن بینیټ د لور په اړه ګیلې پیل کړې. هغې ته يې وویل چې ایلزبت ناپوهه ده اوبیا يې ورته وویل، تاسودا خبره لا چا ته مه کوئ، زه د کولن سره یو وارې بیا غږیږم. میرمن بینیټ کولن سره د پخلاینې خبرې کولې او ورته يې وویل چې ایلزبت به واده ته راضي کړي. دې تر شنبې ایسار و نو د میرمن بینیټ زړه جوړ و چې ایلزبت به خپل نظر بدل کړي.

په بله ورځ ټولې خویندې میریټن ته ولاړې. لیډیا دویکهم په لیدو ورته د نڅا د محفل خبره وکړه او ترې ګیله وکړه چې ولې د جشن په ورځ ورک و. هغه خپل عذر وړاندې کړو چې ده نه غوښتل د ډارسي سره مخ شي او هغه ترې بد احساس وکړي. ایلزبت دده په ښه نیت نوره هم له ده خوښ شوه. ډارسي ته يې بدګوماني زیاته شوه. دوي چې بیرته کور ته راغلې نو د جین لپاره یو لیک راغلې و. دا لیک د بینګلې خورکیرولین ورته لیکلي و. د لیک په ولوستو د جین مخ ژیړ شو خو څه يې وونه ویل او د نورو سره يې عادي خبرې جاري وساتلې. ایلزبت پوهه شوه چې په لیک کی څه بد خبر لیکلې دې. وروسته هغه د جین سره بره د خوب په کوټه کی ولیدل او پوښتنه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترى وکړه. جين وويل، بينګلې د خپلې کورنۍ سره ښار ته روان دى. دوي هغه کورپرېښودو اوواي چې بيرته به نه راځي.

په دې خبر ايلزبت د خپلې خور خفګان احساسولې شو. دواړه د خپل خوب کوټې کې کښيناستې او هلته ايلزبت ټول ليک پخپله ولوستو. په دى کى د ډارسي د خورزکر هم شوې و چې دوي د هغې ليدو ته ليواله و. د کيرولين ليکنه داسى وه لکه چې هغې نه غوښتل، ورور يې د جين سره وويني.
ايلزبت هڅ وهلو چې کيرولين غواړي پخپله د ډارسي ته او د ډارسي خور بينګلې ته واده شي. جين ددى خبرى پړه په کيرولين اچوله خو ايلزبت ته پکى د ډارسي لاس ښکاريدو. د هغه پر ضد ددى منفي احساس نورهم ټکنې شو. بيا دواړو خويندوفيصله وکړه چې خپلې مور ته به يواځې دبينګلې د ورتګ معلومات ورکوي.

هغه وخت چې دوي ليک ولوستلو کولن د شارلټ سره خبرى کولې او اليزبت خوشاله وه چې يوځوک د ميلمه خيال ساتي. ماځيګر محال کولن اعلان وکړو چې دې د شارلټ کورته ورځي او پاتې ځو ورځې به هم هلته تيروي. د شارلټ په کور کى د کولن تود هر کلې ووشو او په بله ورځ هغه ددى د مور پلار په رضا د شارلټ سره د واده وړانديز وکړو. شارلټ سمدلاسه وومنل او د هغې په کور کى ولوله پيدا شوه.

ميرمن بينيټ چې خبره شوه نو خپلې لورته نوره هم په قهر وه چې دومره ښه سړې يې د لاسه وتلې و. جين د کيرولين د ليک ځواب وراستولى واو په دى هيله وه چې بيرته به ليک تر لاسه کړي. جين خپل احساسات چا ته نه څرګندول. د کيرولين ليک راورسيدو چې پکى ددوي د لندن د ژوند کيسې وې. هغې ورته دډارسي د لوې کورپه اړه هم ليکلي و او دا چې د ډارسي خورڅومره ښه جينۍ وه. کولن او شارلټ له واده وروسته ولاړل او ميرمن بينيټ تر څو ورځو د ايلزبت د نصيب ماتم وکړو.

د ژمې په راتګ د ميرمن بينيټ وروراو وريندار د کرسمس د لمانځنو لپاره ورکره راغلل. دوي وړانديز وکړو چې جين او ايلزبت دى دوي سره ولاړې شي. د ميرمن بينيټ وروررله پوځ تقاعد او پخپلو زمکو يې ښکلې کورجوړکړى و. دواړه خويندې دهغوي سره روانې شوې او په لاره خبرى

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې چې ددوي ماما د ډارسي پلارپيژندلو اومامي يې يو وارې د هغوي لوی کورهم ليدلی و. ايلزبت د ماما نه د ويکهم په اړه وپوښتل نوورته يې وويل، چې دې يې ډېر نه پيژني خو په دی خبردې چې د ډارسي سره يې په څه خبره ورانه راغلې وه.

د ماما کورد لندن ښار ته نږدې و او جين غوښتل چې يوه ورځ د بينگلې کور ته ولاړه شي. هغې د خپل ماما د کور په اړه کيرولين ته وليکل او هيله يې وه چې بينگلې به ورپسې راشي يا د راتلو بلنه به ورل ورکړي. خو يوه مياشت همدغسې تيره شوه. ايلزبت د شارلټ له خوا بلن ليک ترلاسه کړو. ايلزبت چې د هغې کور ته ولاړه نو شارلټ يې په ليدو ډېره خوشاله شوه. هغې ته يې وويل، " ما د خپل ميړه د مطالعې ميزاو چوکۍ ددی خونې د کړکۍ سره ايښي دې. ددی لپاره چې کله دې پرې ناست وي نوزه يې مخ ونه وينم." کولن ورته خپل کور او باغ په ډېروياړ ښکاره کول. هغه ايلزبت ته د ميرمن کاترين باغ هم ښکاره کړو چې څنډي يې دده د باغ سره جوختې وې. بيا يې وويل چې راتلونکې يک شنبې دوي د ميرمن کاترين په کور کی د شپې ډوډۍ ميلمستيا ته وربلل شوی و.

د ميرمن کاترين کورد يوې مانۍ په شان واو چار چاپيره ورته ښکلي باغونه و. دننه په لوې تالار کی هغه د خپلې لور سره ناسته وه او اليزبت کتل چې د هغې لور ډيره ژيړه او کمزورې ښکاريده. ميرمن کاترين ټولو ميلمنوسره وارپه واردنوم په اخستلو روغبړوکړو. د هغې مخې ته ټول ميلمانه ډيرمودب ناست و. کولن ورته ښه ډيره چاپلوسي کوله . د ډارسي په راتگ ايلزبت ناارامه شوه خو ښکاره يې نکړل.

په راتلونکو څوورځو کی هغه دکولن او شارلټ سره کله کله د کاترين د کورپه باغونو کی وگرځيده او څو وارې يې ډارسي وليدو چې د خپلې ترورله کوره وتلو او يا راتلو. کله کله د هغې په ليدو به ورته موسکې شو اوورسره په ډيره نرمه لهجه خبری کولې. ايلزبت په لومړي ځل د هغه لپاره د کرکی احساس ونکړو. خويوه ورځ چې هغه ورسره خبری اوږدې کړې نو ايلزبت تری پوښتنه وکړه چې ولې يې بينگلې د هغې له خور د جين نه ليری کړی اوويکهم يې له کوره شړلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بله ورځ سهار ایلزبت د ډارسي له خوا یو اوږد لیک تر لاسه کړو چې پکې لیکلي و. بینګلې ورته ډیرګران دي او هغه یې څو واري وړاندې هم لیدلې چې مین شوې و. نو ځکه ده نه غوښتل چې د جین په شان پاکې او معصومې جینۍ ته څه زیان ورسیږي. هم دا وه چې بینګلې یې هغه کلي او کورپریښودو ته راوهڅوو. که بینګلې او جین ریښتیا د یو بل سره مینه لري او واده کول غواړي نو ډارسي به یې ملاتړ وکړي.

د ویکهم په اړه یې ولیکل چې دې د هغوي په اخور لوې شواو دده پلار ورته په پوځ کې د شامیلیدو زمینه برابره کړه. خو ویکهم دډارسي خورجورجینا چې لا د شپاړسو کالو هم نه وه، بې لارې کړه او نږدې وه چې هغه یې له کوره تښتولې او ورته بدنامي اړولې وې، ډارسي پرې ورپیښ شو او خور یې د ویکهم له لاس نه وژغورله. که ده غوښتلې نو ویکهم ته یې سخته سزا ورکړې وې خو داسې یې ونکړل او ورته یې وویل چې له دې وروسته به د هغوي کورته نه راځي.

ایلزبت د دې لیک په ولوستلو سخته پښیمانه شوه اود ویکهم په اړه یې سوچونه کول چې ددې هم خوښیدو اوغوښتل یې چې ورسره ملګرتیا وکړي. اوس یې د هغه خوږې خبرې یادولې چې دا او خویندې پرې دوکه شوې. هغې غوښتل چې کله ډارسي ووینې نو ترې بخښنه وغواړي خودې لندن ته تللې و. ایلزبت د کولن او شارلټ نه رخصت واخستو او بیرته دماما کور ته ولاړه چې جین ورته بې تابه په انتظار وه. د اوړي په پیل کې بینیت ورپسې ګاډې وروااستوو چې دوه وړې خویندې هم پکې ناستې وې. لیډیا ورته ډیر خبرونه راټول کړي و. ترټولو مهم خبر دا و چې پوځیان د میریټین کلي نه د روانیدو په حال دي. هغې د یو پوځې د میرمنې زکر هم وکړو چې د لیډیا ملګرې شوې وه او لیډیاخپل پلارنه اجازه اخستې وه چې په لاره به د برایټن سمندري ښار سیل کوي. د ښه سیل او ډوډۍ خوړلووروسته دوي کورته راورسیدې نومور پلار یې په لیدوخوشاله شول.

لیډیا په بله ورځ غوښتل چې میریټن ته ولاړه شي او ویکهم سره ووینې خوایلزبت ددې مخالفت وکړو. کله چې هغه د جین سره یواځې شوه نوورته یې د ډارسي د لیک په اړه وویل. جین هر څه په صبر واوریدل او څه خفګان یې څرګند نه کړو. دومره یې ورته وویل چې نه ویکهم بد سړی و او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ډارسي. په بله ورځ لیډیا غوښتل چې ویکهم ته په مخه ښه ویلو ته ولاړه شي. مور پلار یې مجبوره شول چې د تلو اجازه ورله ورکړي. ایلزبت یې ورسره بدرگه واستوله. د ویکهم په لیدو ایلزبت ورته په کنایه کې وویل چې دا د هغه او د ډارسي له معاملو خبره شوې وه.

په اوړي کې د میرمن بینیت وروراو وریندارببا راغلل او ایلزبت یې له ځانه سره بوتله. دوي د انگلستان د شمال ځیني سیمې ولیدلې. په لاره دوي یوه لویه ماڼۍ ولیده او مامي ورته وویل چې هم دا د ډارسي کورو. دوي خپل اس گاډی دننه باغونوته تاو کړو او څو شیبې پکې وگرځیدل. بیا ماما او مامي یې یو ځای د تیرې په چوکیو کښیناستل نو یوه خدمت گاره راغله او دوي نه یې د چایواوبو پوښتنه وکړه. هغې د کور او ددی اوسیدونکو په اړه ښه ډیرمعلومات ورکړل او د ویکهم کیسه یې هم هغسې بیان کړه څنگه چې ایلزبت د ډارسي په لیک کې ولوستې وه.

ایلزبت د اوبو لوې جهیل ته ولاړه اوهم هلته ولاړه د مرغابیوننداره یې کوله چې ناڅاپه ډارسي له یوې غاړې نه راښکاره شو. هغه وارخطا شوه خو ورسره یې روغبړوکړو. دوي څو گامه یو ځای واخستل او ایلزبت غوښتل چې د زړه خبره ورته وکړي خو هغې د شرم او خجالت احساس کوو.
ډارسي دوي ته د دننه راتلو وویل او ښې چاې یې ورله ورکړې. دده خورتر هغه وخته لندن نه نه وه راغلی او ایلزبت ورته بلنه ورکړه چې کله هغه راغله نوخورسره ددوي د ماما کور ته راشي.

څو ورځې وروسته یو ښکلې گاډی د ماما کورمخې ته ودریدو. ډارسي د ځانه سره بینگلې هم راوستې و او د هغه په لیدو ددی فکر خپلې خور جین لوري ته کډه وکړه. له گاډي یوه نازکه جینې راښکته شوه چې د ډارسي خورجورجینا وه. ایلزبت په دی حیرانه شوه چې د هغی په اړه ویکهم ولې ویل چې یوه کبر ژنه جینۍ وه. جورجینا د شپاړسو کالو نه د زیات سن نه ښکاریده او هر چا سره یې ډیره په مودبه لهجه خبری کولې. بینگلې د ایلزبت سره په خبرو کی د جین په اړه پوښتنې وکړې او د هغې زړه ډاډه شو چې دی اوس هم د هغې د خور په اړه ښه نظر لري او ددوي کور ته د تللو هوډ یې څرگند کړو. بینگلې د ژمي په پیل کی د نڅا جشن یادوو. له چایو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ډارسي دوي ټولو ته پخپل کور کی د ډوډی د میلمستیا بلنه ورکړه او رخصت شول.

د ډارسي د کورپه میلمستیا کی د بینګلې خویندې هم ورغلې وې. که څه هم کیرولین د الیزبت په لیدو ورته تندې تریوکړو خو ایلزبت پوهیده چې هغې ته اوس د ویرې اړتیا نه وه خو دا احساس یې هم کوو چې کیرولین د هغې هرچلن او خبرې ته ځیروه. کله چې ایلزبت د خپل ماما او مامي سره رخصت شوه نو کیرولین د ډارسي خوا ته راغله.

کیرولین. تاسو پام وکړو، نن سهار ایلزبت څومره ناروغه ښکاریده. له ژمي راهیسې یې رنګ اوختې دې او لمر وهلې ښکاري. مونږ خو هیڅ وونه پیژندله.

ډارسي. هولمریې رنګ تازه کړی دې او دا ځکه چې ټول اوړې هغې سیلونه کول او په لمرکی ګرځیده.

کیرولین. زه په دی جینۍ کی هیڅ ښکلا نه وینم. مخ یې ډیر تنګ او پوزه یې لږه پیته ده. غاښونه یې البته ګوزاره کوي. ښاغلی ډارسي، تا یو وارې ددی د سترګو ستاینه کړی وه، ما ته خو پکې څه خاصه خبره نه ایسي. داسې تیره نظر یې دې چې زما نه خوښیږي. په ځان دومره باورلري چې ته به وایې، رانۍ ده.

ډارسي. هو، هغه بې شکه رانۍ ده. زما په فکر، څومره ښځې چې زه پیژنم، په هغوي کی دا تر ټولو ښایسته ده.

په بله ورځ ایلزبت د سبا ناری نه وړاندې د کورپه باغ کی ګرځیده چې د هغې په نوم دوه لیکونه راغلل. دواړه دجین له خواو. د لومړي لیک متن د ایلزبت لپاره هیښونکې او په دی کی لیکلي و. بیګا شپه ناوخته یو قاصد مونږ ته د ډګرمن فوسټر( د لیډیاخورلڼې میړه) له خوا یو لیک راوړو. هغه راته اطلاع راکړی وه چې لیډیا دده د کنډک یو افسرویکهم سره سکاټ لیند ته تللی ده. ویکهم بې له اجازی په پټه روان شوې دی او د پوځ د اصولو نه یې سرغړولی دی. پلار مو لیډیا ته سخت په قهردی اومورمې ضعف

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو. لیډیا د څو کرښو یو لیک د فوسټر میرمنې ته پریښې دې چې پکی لیکلي دي، دا پخپله خوښه د ویکهم سره روانه ده.

ایلزبت د جین دویم لیک پرانستوچې د لومړي نه یوه ورځ وروسته لیکل شوې و. په هغی کې لیکلي و چې ډګرمن فوسټر له برایټن نه ددوي کور ته راغلو. هغه اندیښنه ښودله چې په داسی پیښو کی پوځي افسران زیات وخت د خپلی ملګری سره د ګریټنا ګرین په کلي کی واده وکړي. خو ده خبر تر لاسه کړی دی چې ویکهم تر اوسه د لیډیا سره واده نه وکړی او دواړه په یو سراې کی د ښځې او میړه په توګه میشت دي.

ایلزبت وارخطا د ماما خونې ته منډه کړه او هغه ته یې حال وویلو. ماما یې سمدلاسه بهر ولاړو او ایلزبت په یوی کرسۍ کښیناسته. د هغې په پښو کې دم نه و اود خپل پلار په اړه خواشینې وه. ددوي د کورنۍ بدنامي او د ټولو خویندو په نصیب چا توره لیکه راښکلې وه. په دی وخت کی یوی خدمت ګارې د ډارسي د راتګ خبر ورله ورکړو. ایلزبت بې شیمې ناسته وه او په اوپره زړه یې ورسره روغبړ وکړو. ډارسي تری وپوښتل چې څه شوي و نو د ایلزبت په سترګوکی اوښکې راغلې او د جین د لیک خبره یې ورته وکړه. ډارسي هم هک پک پاته شو او نه پوهیدو چې ایلزبت ته څنګه تسلي ورکړي. ایلزبت وویل، "دا ټوله زما ګناه ده. تا راته د ویکهم په اړه ویلي و خو ما خپله کورنۍ له دی خبره نه کړه او نه مې خپله وړه خور تری وژغورله."

ډارسي غلی و او اخر یې ورته وویل، "زما له وسه چې څه کیږي هغه به درته کووم. زما خورنن ستاسو راتلو ته سترګې په لارده." ایلزبت ورته خواست وکړو چې که دا خبر له نورو پټ وساتي نو ښه به وي. ډارسي له کوره ووتلواو ایلزبت سوچ کوو، اوس به زه دی چرې هم نه وینم. ددوي کورنۍ به بدنامه وي او هیڅوک د یوې بدنامې کورنۍ سره اړیکې ساتل نه غواړي. هغې د لیډیا په اړه اندیښنې لرلی چې له ماشومتوبه د سیل او د میلو شوق یې لرلو خو ایلزبت تل داسې ګڼله چې خور به یې په غلطه لاره ګام نه اږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ایلزبت ما ما او مامي د سفر انتظام وکړو او ټولو نوکرانو ته یې وویل چې د ایلزبت خورنابېره ناروغه شوې وه او دوي یې پوښتنې له ورځي. د ډارسي کورته یې هم دا خبر ورواستولو. په لاره ددی ماما ورته وویل چې که ډګر من فوسټر په ویکهم زور راوړی نو ښاي هغه به د لیډیا سره واده وکړي. خو لومړی به دا معلومول غواړي چې دوي د سکاټ لینډ نه بلې خوا ته خو نه دی تللي. که دوي په لندن کی و نو بیا امکان شته چې د دواړو واده ترسره شي. ایلزبت خپله اندیښنه وښودله چې ویکهم به داسی جینۍ سره چری واده نه کوي چې پلار یې شته من نه وي. کله چې ددی مامي پوښتنه وکړه چې ایلزبت ددی هر څه نه څنګه خبره شوه نو هغې ورته د ډارسي دخورکیسه وکړه . بیا یې وویل، ویکهم ډیرو نورو ښځو سره هم ملګرتیا لري خو لیډیا دومره وړه ده چې په دی خبرو نه پوهیږي.

دوي ټوله ورځ او شپه سفر وکړو او په لاره کی یې یواځې د ګاډي د اسونو بدلولو او اوبو ډوډۍ ته ایسارکړو. په بله ورځ ماښام دوي د بینیټ کور ته ورسیدل. له دروازی بهر جین ورته ولاړه وه او کله چې ایلزبت تری د لیډیا پوښتنه وکړه نو وې ویل تر اوسه یې درک نه دی معلوم. د هغې پلار هم بیرته نه و راګرځیدلی او مور یې په کټ کی ناروغه پرته وه. کله چې الیزبت بره د مورکوټې ته ولاړه نو هغې د لور پسې ژړا انګوله هم کوله او د هغې د واده خبره یې هم یادوله.

ایلزبت د مور له خبرو په دی اند شوه چې هغه دلور په بدنامۍ دومره خواشینې نه وه څومره چې د هغې واده په اړه یې تلوسه لرله. د هغې ماما د ویکهم په اړه پوښتنې کولې او بیا د لیډیا لیک یې وکتلو چې میرمن فوسټر ته یې لیکلې و. په دی کی هغې خپل ارمان څرګندکړی و چې دا له خپل مین سره واده کول غواړي. څو ورځې واوختې او په دریمه اونۍ کی دوي دکولن له خوا یو لیک تر لاسه کړو. په دی کی هغه د بینیټ ټوله کورنۍ ملامته کړی وه چې لیډیا یې له لاسه ووتله، او دا چې میرمن کاترین ډیر په قهر ده چې دده د تربور لور ورته دومره لویه بدنامي اړولې وه.

بیا یوه ورځ ښاغلي بینیټ کورته راغلو خو لیډیا یې نه وه موندلی. ده په لندن کی د میرمن بینیټ ورور له خوا یو لیک تر لاسه کړی و چې ایلزبت ته یې ورکړو. په دی کی لیکلي و چې ماما یې لیډیا او ویکهم لیدلي دي، خو دوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه واده نه وکړی. د واده لپاره پینځه زره پونډه ژر تر ژره پکار و. بله دا چې ویکهم زر پونډه پوراوړي هم و. که څه هم ښاغلي بینیټ د پیسو په ورکولو کی زړه نا زړه و خو د لونړوپه خواست یې غاړه کیښوده. هغه نه غوښتل چې ټولې پیسې دې په یو وار د لور په لاس کیږدي او ویکهم یې په جواریَ کی وبایلي. ددی لپاره هغه یو قانوني سند جوړ کړو چې تر مخه یې د کال سل پونډه به لیډیا ته ورکول کیدې.

الیزبت په دی خوښ وه چې خور به یې واده شي خو د هغې د خوشاله ژوند په اړه یې شکونه لرل. هغې د ماما لیک مور ته یوړو او ورته یې ولوستو. د لیډیا د واده په خبرمیرمن بینیټ خوشاله شوه او وې ویل، "تاسو ټولو نه زما دا لور تکړه وه چې د شپاړسو کالو په سن کی یې ځان له میړه ولټوو." جین او الیزبت له شرمه یو بل ته وکتل او موریې د جاموبدلولو ته پاسیده چې خپلوخپلوانو ته د لور د واده خبره وکړي. هغې د میلمستیا او د میلمنو خبرې کولې او دا چې لیډیا او ویکهم به د کور په کومه خونه کی ایساریږي. خو ښاغلي بینیټ ورته په کلکه وویل چې دوي هر چرې تلې شي خو دده په کور کی به نه پاته کیږي. په دی خبره میرمن بینیټ له میړه سره سخت جنګ وکړو او هغه ترې کتابتون ته پناه یوړه.

په بل لیک کی ماما په لندن کی د لیډیا د واده خبر لیکلې و او دا چې دوي به ژرکور ته راشي. څو ورځې نورې ووتلې او یوه ورځ لیډیا او ویکهم په ګاډي کی سپاره کور ته راغلل. د ښاغلي بینیټ نه پرته نورو ټولو ددوي تود هر کلې وکړو. لیډیا ډیره په مینه د ویکهم لاس نیولې واو هر چا ته یې ویل، "وګوریَ میړه داسی وي." بیا به کټ کټ په خنداشوه.

میرمن بینیټ. زه څومره خوش بخته یم چې لور او زوم مې ولیدل.

لیډیا. زما درې میاشتې کیږي چې له کوره ووتلم او اوس بیرته د یو واده شوي میرمنې په حیث راوګرځیدم. موری، ما په لاره ستا یو ګاونډې ولیدونو خپل دست کش مې لیرې کړو او د ګاډي په شیشه مې لاس کیښودو چې هغه زما د واده ګوته وګوري.

میرمن بینیټ. اوس خو به تا ته بل نوم اخلو، میرمن ویکهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیډیا. (خندا) څنګه موري، زما میړه دې خوښ شو. اوس خو زه د ټولو خویندونه معتبره شوم. بس یو واري چې خپل کور کی ځاې پرځاې شو نو دا دواړه کشراني ما ته پریږده. ښه ښه میړونه به ورته پیدا کړم. لکه چې ځان ته مې وموندلو.

میرمن بینیټ. کاشکه دا مشراني دوه هم له تا څه زده کړي.

یوه ورځ ټولې خویندی په باغ کی ناستې وې او د لیډیا خبرو ته یې غوږ نیولې و. هغې په باور وویل، " د ژمي نه وړاندی به ما تاسو ټولو ته ودونه کړي وي". ایلزبت ورته وویل، "ډیره مننه، خوپه کومه طریقه چې تا میړه کړې دې زه هغه لاره غوره نه ګڼم."

هغې ایلزبت ته وویل، ته غواړی چې درته ووایم، زما واده په کومو حالاتو کی ووشو. ایلزبت ورته وویل، په دی موضوع هر څومره لږ ی خبرې ووشي نو ښه به وي. خو لیډیا خپله خبره جاري وساته. د واده په سهار زه ډیره سخته ویریدم. ماما او مامي دواړو راته ډیر بد رد ویلي و او دوي راسره و. کله چې مونږ کلیسا ته روانیدو نو یوکس زما ماما د څه کار لپاره بوتلو او ما فکر کوو چې که په مونږ ناوخته شو نو واده به نه کیږي. خو ماما مې ژر بیرته راغې. بیا ما چرت وهلو چې که ماما نه وې راغلې نو هم زما واده به شوې وې ځکه ښاغلې ډارسي د ویکهم سره مله و. ایلزبت حیرانه شوه. "ډارسي هلته څه کول؟" لیډیاوارخطا شوه، "دوي خو ما ته ویلي و چې دا خبره به پټه ساتم. ما نه یې قول هم اخستې و. خدایه ! اوس ویکهم ته به څه ځواب وایم."

جین ورته وویل، که دا پټه خبره ده نونور یې مه وایه. مونږ به درنه نوری پوښتنې نه کوو. د ایلزبت لپاره ددی زغمل ګران و او هغه لیرې کښیناسته. وروسته هغې خپلې مامي ته لیک ولیکلو او غوښتنه یې تري وکړه چې د لیډیا د واده ټول حال ورته ولیکي. څو ورځې وروسته د مامي لیک راورسیدو. هغه د باغ په بل ګوټ کی د یوې ونې لاندې کښیناسته او لیک یې ولوستو. په دی کی لیکلي و. "په کومه ورځ چې زه لندن ته راورسیدم نو ښاغلې ډارسي ستا ماما لیدو ته راغلو. دوي تر څو ساعتو ځان له خبری کولې. هغه ستا د خوراو د ویکهم په اړه معلومات راوړي و. ده وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ نه یوه ورځ وروسته له خپل کوره ښار ته راغلو او د دواړو لټون یې وکړو. ده یو وارې د لیډیا او څو وارې د ویکهم سره خبرې کړې وې . هغه لیډیا دی ته هڅوله چې دبدنامی د حالت نه دی راووځي او ویکهم نه بیله شي. خولیډیا نه منل. له ویکهم یې وپوښتل چې ولې سمدلاسه یې د لیډیا سره واده ونکړو نو هغه ورته د خپلو پورونو خبره وکړه. دی هیله من وچې د واده له لاری به ځان ته پیسې وګټي او فکر یې کوو چې ستا پلار ډیر شته من سړی دی. له هغه سره یې د لیدو وخت هم ټاکلې و. خو کله چې ستا ماما ورته دبینیټ مالي حالت بیان کړو او دا چې د هغه میراث به کولن ته رسیږي نوویکهم د هغه له لیدوډډه وکړه. ماما دی له ویکهم سره ولیدل اود پیسو خبره وشوه. ده ټول حال ستا پلار ته په یو لیک کی ولیکلو. خو د ویکهم پور او د واده خرڅ ښاغلي ډارسي ورکړل، نه چې ستا ماما. هغه رانه غوښتنه وکړه چې دا خبره دی پټه وساتو او بیرته خپل کور ته ولاړو. له دی وروسته مونږ لیډیا خپل ځاې ته راوستله او دواده دود مو پرځاې کړو. ښاغلي ډارسي د واده لپاره بیرته راغلو او د میلمستیا ډوډۍ یې هم راسره وخوړه. زه دومره ویلې شم چې ډارسي یو ډیر لوړ انسان اوراباندی ګران دي."

ددی لیک په ولوستلو ایلزبت خپل ځان ډیرارامه احساس کړو. د هغې له سینې یوه لویه تیږه لیرې شوې وه او د ډارسي په اړه یې د خوښي نه پرته بل څه نه لرل. هغې د ویکهم او د ډارسي د شخصیتونو په تضاد غورکوو چې څومره په لږه موده کی دا د دوو انسانانو په پیژندنه کی تیر وتې وه. د چا د قدمونو په ښکالو هغه د خپلو خیالونو نه راووتله. ویکهم د ونې سره ولاړ و اود هغه په لیدو ایلزبت ودریده. ده تری د ډارسي کور ته د تګ په اړه وپوښتل. ایلزبت حال وویلو او دا چې هلته د ډارسي خور یې هم لیدلې وه. ویکهم ورته یو وړوکي کلي نوم یاد کړو چې د هغوي کور ته په لاره و او وې ویل چې دې اوس له پوځ نه ویستل شوې دې او د هغه کلي په وړوکي کلیسا کی به دنده په غاړه واخلي.

د لیډیا او ویکهم دتلونه وروسته د بینیټ په کور کی ژوند بیا عادي حالت ته راغلو. میرمن بینیټ څو ورځې د لور په اړه غږیده او خفه به شوه. یو سهارجین خبرترلاسه کړو چې بینګلې د خپلو خویندو سره د میریټن په کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی ایساردې. هغه ډېره خوشاله ښکاریده او ایلزبت ورته وویل، "ښاي یو ښه خبرتر لاسه کړو." مور یې جین ته وویل، "که هغه زمونږ کور ته راغلو نوته به ورسره ووینې." جین وویل، "زه نه غواړم، تیر کال هم تا په زوره ددوي کورته لیږلې وم ، د هغه خویندې ما نه غواړي." مور ورته وویل،" زه په تا جبر نه کووم خو که راغلل نو رسمي ورسره ووینه."

د بینګلې سره ډارسي هم ددوي کور ته راغلو. میرمن بینیټ د خپلو ټولو لونو سره یې هر کلې وکړو. خودهغې ډارسي نه بد راتلل او څو وارې یې وربانډې د ژبې ټکونه وکړل. هغه په صبر ددی خبرې اوریدې. بینګلې د جین په لیدو ډېرخوشاله ښکاریدو خو هغې له حیا سترګې ټیټې نیولې وې. ایلزبت د خپلې مورپه خبرو ناارامه وه او نه پوهیده چې هغه څنګه له بی ځایه خبرو منع کړي. ددوي د تلو پر محال میرمن بینیټ ورته د ډوډۍ بلنه ورکړه. کله چې دواړه میلمانه له کوره ووتل نو ایلزبت په چرت کی شوه. ډارسي ټول وخت خاموشه و او ایلزبت نه پوهیده چې دې ولې راغلې و.

په بله اوونۍ کی د بینیټ په کور کی ډیر میلمانه راټول و . بینګلې او جین د ډوډۍ په میزڅنګ تر څنګ کښیناستل او ایلزبت هم موقع پیدا کړه چې د ډارسي سره خبرې وکړي. یو څو ورځی چې تیرې شوې نو بینګلې یواځې راغلواو ډیر وخت یې د جین سره تیر کړو. له چایو وروسته میرمن بینیټ دوي یواځې پریښودل او بینګلې جین ته د واده وویل. هغې په خندا ورته هو وویل .وروسته بینګلې په کتابتون کی د ښاغلي بینیټ سره ولیدل او د جین سره د واده رسمي اجازه یې واخسته. د کور ټول غړي خبر شول اوهر چا جین ته امبارکي ویله. میرمن بینیټ نه لیډیا هیره شوه او اوس هر چا ته یې ویل چې ددی ترټولو هوښیاره لورجین ده چې دومره ښته من سړي سره ودیږي.

له دی خبروروسته جین او ایلزبت د یو بل سره زړه خواله وکړه نو جین ورته وویل، تیر کال چې مونږ لندن ته تللي و نو بینګلې هیڅ خبرنه شو. ما کیرولین خبره کړی وه خو هغې وروړته وونه ویل. هغې نه غوښتل چې ورور یې خبر شي او له ما سره ووینې. هغې خپل پورا وس وکړو چې مونږ دواړه له یو بل لیرې وساتي او ښاي ډارسي ته یې هم لمسون کړی و. ایلزبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته وويل، ښه ده چې بينګلې پوهه شو او ښاي له تا سره يې ريښتوني مينه لرله ځکه خو د دومره مودی په تيريدودی بيرته راغې.

د بينګلې او د جين د واده خبرژرددوي له کلي ميريټن ته کډه وکړه. يو سهار د بينيټ دکورنی غړي د سبا ناری نه وروسته په لوی تالار کی ناست و. بينګلې هم هلته او ښاغلي بينيت په کتابتون کی و. بهر د اسونو د يو ګاډي د ودريدو غږ واوريدل شوخو د يو ميلمه د راتګ هيله نه وه اوجينکوله کړکی وکتل چې داسې ناڅاپه به چا پيښنه کړي وي. بهر يو ښکلې سپين ګاډې چې دوه اسونه يې ښه چاغ او تازه ښکاريدل ولاړ و. ددی ګاډي د چلوونکو او د يو خدمتګار لباس دوي ته نااشنا ښکاره شو. ټولو ګوته په خله دی شاندار ګاډي ته کتل چې څوک به پکې راغلي وي. ددوي دربان وړاندې شو او لږه شيبه وروسته يې د کور په دروازه د ميرمن کاترين د راتګ اعلان وکړو. بينګلې او جين نه غوښتل چې هلته پاته شي نود باغ له دروازې بهر ووتل.

ميرمن کاترين ډير په کبرلوی تالار ته رادننه شوه او څو شيبې يې ددوي د ديوالونو او شيانو جاج اخستو. ايلزبت او ددی خويندو ورته هر کلې وويل او ميرمن بينيټ ورته د کولن په شان د چاپلوسۍ يو څو جملو وروسته د کښيناستو وويل. هغې په ولاړه ايلزبت ته وويل چې ددوي د کورباغ ډير وړوکی و او د ناستې کوټه خو يې لا وړه وه. ايلزبت ترينه د کولن او د شارلټ پوښتنه وکړه او هيله يې لرله چې د هغوي له خوا به يو ليک ورته ورکړي. خو داسې ونشول. ميرمن بينيټ ورته د چايو اوبو وويل خو هغې انکار وکړواو ايلزبت ته يې وويل، ستاسو د کورڅنګ ته د ګلابو يوه وړه باغچه ده، زه غواړم چې هغه ووينم. ايلزبت له بره کوټې خپل شال او وړه چترۍ راواخستل او ميرمن کاترين يې بهربدرګه کړه. هغې وليدل چې په ښکلي ګاډي کی دننه يوه خدمت ګاره ناسته وه. د ميرمن کاترين چلن د ايلزبت لپاره د منلو وړنه واو هوډ يې وکړو چې پخپله به ورسره هيڅ خبره ونکړي. هغه د ډارسي ترور وي که هر څوک، داسی د چا په کور کی نوروته ټيټ کتل ناروا کار و. کله چې دوي د ګلابو باغچې ته ورغلې نوميرمن کاترين خبری پيل کړی.

کاترين. ته پوهيږې چې زه ولې ستاسو کور ته راغلم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایلزبت. نه میرمن کاترین، زه نه یم خبر.

کاترین. ( په قهر) ته باید په دی وپوهیږې چې ما سره څوک چل ول نشي کولې. زه هره خبره په زغرده کووم. ما ته یو خبر رارسیدلې دې چې زما خوریې ډارسي تا سره واده کول غواړي خو راته یو ناممکنه کاربښکاري. زه په دی باور نه لرم خوته راته حقیقت ووایه.

ایلزبت. چې ستاسو باور نه دې نو ولې مو ددی اوږد سفر زحمت وویستو. ستاسو په راتګ خو ددی خبری تاید کیږي.

کاترین. نو ته خبره نه یې چې زمونږ په سیمه کی هری خوا ته دا خبر ډنډوره شوی دی. ته ووایه چې زما خوریې درته د واده ویلې دي او که نه؟

ایلزبت. تاسو پخپله وویل چې دا ناممکنه کار دی.

کاترین. ګوره، صفا راته ووایه چې هغه درته د واده رسمي خبره کړی ده که نه.

ایلزبت. که یې کړی وي نو زه یې درته نه وایم.

کاترین. ای جینۍ ته خبره یې چې زه څوک یم او ته له چا سره مخاطب یې. هیڅوک ما سره په دی لهجه د خبرو جرات نشي کولې.

ایلزبت. ما سره هم تر اوسه چا په دی غږ خبری نه وې کړې.

کاترین. زه یوه خبره درته سپینه کووم. ستا که هر څه پلان وي.، دډارسي کویژدنه زما د لور سره شوی ده. ما او خور مې ډیر پخوا دا فیصله کړی وه.

ایلزبت. که داسی ده نو بیا خو به ستا خوریې چیرې هم ما ته د واده وونه واي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین. ددوي د کویږدني خبره مونږ چا ته نه ده کړی او نه غواړو چې د یوې ټیټې کورنۍ جینۍ دې زمونږ په لوړی کورنۍ کی کښیني. که ستااو ډارسي تر منځ څه خبره شوې ده نو هغه ته انکار وکړه.

ایلزبت. زه داسی نشم کولی.

کاترین. ته ډیره متکوراو بی شرمه پیغله یې. زه به درته دومره ووایم چې ترنن پوری ما ته چا انکار نه دی کړی. زه چې څه غواړم، هغه تر لاسه کووم. ته زمونږ سیاله نه یې.

ایلزبت. ستا خوریې یو شریف سړی دی او زه د یو شریف سړي لور یم. په دی توګه مونږ دواړه د یو بل سیال یو.

کاترین. دا خبره سمه ده چې ستا پلار یو شریف سړی دی، خو مور دی څوک ده، ماما، او نورخپلوان؟ ته فکر کوی چې زه ددوي له حالت بی خبره یم. ستا کورنۍ به زمونږ د لوړی کورنۍ لپاره د شرم وړ وګرځي. ستا د پلار تربورزما نوکر دی او ستا خور د یو هلک پسې تښتیدلي وه.

ایلزبت. زما خپلوان که هر څوک دي، ستا خوریې که وربادی اعتراض نه لري نو ستا لپاره دا خبره بی مانا ده.

کاترین. ته ما سره یو لوزوکړه چې که زما خوریې درته د واده وویل نو ته به انکار وکړی. که داسی دی ونکړل نو ستا او د کورنۍ لپاره به دی ښه نه وي.

ایلزبت. ( په قهر) زه داسی لوز نشم کولې. ته پوه شه او ستا خوریې. مهرباني وکړه ما ته ګواښونه مه کوه او زه په دی موضوع نورهیڅ خبره کول نه غواړم. تا زمونږ سپکاوې ښه ډیر وکړو اوس بس کړه چې زه درنه کورته ځم.

ایلزبت ډیر په قهرله باغه ووتله خو میرمن کاترین ورپسې روانه وه او بد رد یې ویل، تر څو خپل ګاډي ته ورسیده نوهم هغسی یې په تونده لهجه ګاډي وان ته د تلو امر وکړو. میرمن بینیټ چې لور ولیده نو تری وپوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره درنې میلمنې ته یې د چایو ست ونکړو. ایلزبت ورته وویل، هغه په تادۍ کې وه. مور ته یې د خپلو خبروپه اړه هیڅ وونه ویل او خپلې کوټې ته ولاړه. په بل سهاربناغلي بینیټ ایلزبت کتابتون ته راوبلله اویو لیک یې وربنکاره کړو چې په هغه سهار راغلی و. دا د کولن له خوا راغلې واو پکی لیکلي و چې میرمن کاترین نه غواړي چې د بینیټ کورنۍ سره خپښي وکړي. ایلزبت خپل پلار ته پرونۍ کیسه تیره کړه نو هغه وخاندل.

په هغه ماځیگر ډارسي دایلزبت سره خبرو لپاره راغلواودواړه باغ ته ورغلل. هغې له ډارسي پوښتنه وکړه چې ولې یې د لیډیا او د ویکهم د واده لپاره یې دومره پیسې ورکړی وې. ډارسي وویل، ما داسی فکر کوو چې خپله خورمی له ویکهم خلاصه کړه خو د هغه د کړو وړو مسولیت زما و. لیډیا هم زما د خور په شان ده اونه می غوښتل چې هغه بدنامه شي نو ځکه می دا کار وکړو. ایلزبت ورته مننه وکړه خو د شرم احساس یې کوو چې د هغه د ترور سره یې سختی خبری کړی وې.

دوي یو ځاې ودریدل نو ډارسي ورته د واده وویل. ایلزبت ته د میرمن کاترین خبری ورپه زړه شوې. ډارسي ددوي له ملاقات خبر شوی واو ایلزبت ته یې ډاډ ورکړو چې دده په فیصله کی څوک مداخله نشي کولې . هغه ورته وویل چې تیر کال کله چې ایلزبت یې د بینګلې کورکی ولیده نو هم هغه وخت یې خوښه شوی وه. ایلزبت ورته خپل احساسات څرگند کړل چې هغه وخت ده ته ډارسي یو کبر ژن کس ښکاره شوی و. ډارسي وویل، زه په کور کی د یواځې ماشوم په توگه لوې شوې یم او د خلکو سره د خبرو په چل نه پوهیږم. ښاي زما په شخصیت کی دا نیمگړتیا وي. زه ستا د مورپه چلن ناهیلې شوم اوبینګلې ته مې وویل چې له دی ځایه پښې وباسه. خو وروسته چې تا د جین د احساساتو خبره وکړه نو پښیمانه شوم او بینګلې ته مې وویل چې که د جین سره مینه لري نو سمدلاسه دی ورسره د واده خبره وکړي. دا احساس می کولی شو چې ته له ما کرکه کوی.

ایلزبت وخاندل، دکرکی احساس راکی وزیږیدو خو هدف یې ستا شخصیت نه بلکه ستا کبرو، ځکه چې زما کبر ژن خلک نه خوښیږي. هغې د بینګلې د خورکیرولین خبره وکړه چې ده پسې وه. ډارسي وویل، هغه راته مهمه نه ده، مهمه دا ده چې ته زما په خور جورجینا ډیره گرانه یې او هغه ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شميري چې کله به تا سره بيا ووينې. دوي چې بيرته کور ته راغلل نو ډارسي د ښاغلي بينيټ سره د ليدو خواست وکړو. بيا هم هغه کتابتون کی چې څو ورځې د مخه پکی بينګلې د جين سره د واده خواست کړی و، ډارسي تری د ايلزبت لاس وغوښتو.

د پسرلي په يو ښکلې سهار دميريټن کلي په کليسا کی د دوو ودونو لپاره ميلمانه راټول و. جين او ايلزبت د خپل پلار لاس نيولې راغلې او پادري دبينګلې او ډارسي سره ددوي د واده مراسم پر ځاې کړل. ميرمن بينيټ خپل ځان د نړۍ تر ټولو خوش بخته مورګڼلو او ټولو ښځو ته يې هم يوه خبره کوله چې په دريو مياشتو کی درې لوڼه يې واده شوې. د کليسا نه بهردوه اس ګاډي تيار ولاړ و او کله چې ناوياني او شاه ځلمې را بهر شول نوميلمنو پری ګلونه وشيندل. د پاکی مينې په بري ټول خوشاله و.

پاې

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chi Kum day

Listen to a literary

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**